د ۱۳۹۳ کال د غبرګولی د میاشتی ۱۳مه

د افغانستان د اسلامی جمهوریت ملی شورا ته!

**موضوع: د اداری فساد پر وراندی د مبارزی د پیاوړتیا په موخه د پیسو د مینځلو په وراندی د مبارزی د قانون د مسودی د ښه والی په هکله وړاندیزونه**

د ملی شورا ښاغلیو غړو !

د اداري فساد پروراندي د څارني او ارزوني خپلواکه کده کمیټه د افغانستان د اسلامی جمهوریت ملی شورا ته د پیسو د مینځلو په وراندی د مبارزی د قانون د مسودی لیږلو څخه هر کلی کوی او دغه کار د اداری فساد او د پیسو د مینځلو پر وراندی د مبارزی لپاره یو اغیزمن ګام بولی، خو وایی چی په دغه قانون کی یو لړ اړینو تغیراتو راوستلو ته اړتیا ده ترڅو د فساد پروراندی د کړنو لپاره یوه اغیزمنه وسیله وګرځی. د قانون دغه مسوده د پیسو مینځل یو جرم بولی، داسی پیسی او شتمنی ضبطوی او په مالی سکتور او نور اړوندو سکتورونو کی دجرم د مخنیوی لپاره لازم تدابیر نیسی.

د دغه پرمختګ سره سره، د څارنی او ارزونی خپلواکه کده کمیټه د قانون د لا غښتلتیا لپاره څنی اړین وړاندیزونه وړاندی کوی :

لومړئ ، د پیسو د مینځلو اړوند اصطلاحات باید نور هم وغزول شی او په قانون کی ځای پر ځای شی لکه اړونده راکړی ورکړی، د نغدو پیسو راکړی ورکړی، شیل بانکونه، ملکیت او نغد د نورو سره یکی ځای پرځای شی.

دویم، د پټو حسابونو د پرانیستلو په هکله د محدودیتونو د وضع کولو ماده باید نوره هم وغزول شی تر څو پوری د پټو حسابونو پرانیستل، د پس انداز کتابچه او د لاسلیک کونکی د پس انداز کتابچه او نور هغه څه چه د هغو پواسطه د مشتری هویت پری پټیدای شي پکی ونغښتل شی.

دریم، د قانون په مسوده کی د اړوندو ادارو تر منځ کمزوری همغږی او د همغږی د کرنلاری نه لرل په افغانستان کی د پیسو د مینځلو په وراندی د مبارزی د ناکامی سبب ګرځی. د افغانستان د مالی راکړو ورکړو او اړونده ریپوټونو د شنتنی مرکز(فنتراکا) ته باید واک ورکړل شی تر څو د دولتی ادارو، مسؤلینو، قانون پوهانو او د قانو پلی کونکو سره د همکاری میکانیزم جوړ کړی.

څلورم، د ریپوټونو اړوند مواد باید روښانه او واضح کړای شی او معلومات باید ثبت شی. د ثبت شویو معلومات محتوا او د ثبت لپاره نور اړین موضوعات په قانون کی ندی ځانګړی شوی. د قانون دغه مسوده به د فنتراکا له لوری د ریکارډ ساتلو په اړه د یوی مادی د زیاتولو څخه ګټه پورته کړی، چی له مخی به یی عملیاتی معلوماتو او د راکړو ورکړو د موقتو کنګل کولو د احکامو په اړه نوری اړتباوی ښکاره شی.

TELEPHONE: 0797 51 58 71 | EMAIL: contact@mec.af
ADDRESS: House# 254, Phase 1, Ashraf St, Lane 1-2, Shar-e Naw
Kabul – Afghanistan
www.mec.af

تیلفون: ۰۷۹۷ ۵۱ ۵۸ ۷۱ ایمیل: contact@mec.af
آدرس: خانه نمبر ۲۵۴، کوچه ۱-۲ قسمت
الف، اشرف وات، شهر نو، کابل -
افغانستان
www.mec.af

لکه د کنترول او څارنی او د پټو سلسله څانګری تکتیکونه یو پلټنې د څو تر ښکاری ارینه چه دا کی پای په

مامورینو څخه د ګټي اخیستلو او او برښنایی څارنی مسایل په قانون کی راونغارل شی.

د قانون په مسوده د څانګرو تکتیکونو د استعمالولو ارونه ماده لیری شوی کومه چی د فساد پروراندی په اوسنی نافذ

قانون کی شته دی. دغه شته ماده باید له منځه ونه ویستل شی.

د اداری فساد پروراندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه په د یوی مناسبی موکی په ترځ کی د خپلو

وراندیزونو په اړه د توضیحاتو د ورکولو هرکلی وکړی.

ډاکټر احمد راشد بهروز
د څارنې او ارزونی د کمیټې اجرایوی رئیس